# اتَّقُوا الظُّلْمَ، فَإِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَاتَّقُوا الشُّحَّ، فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ،

له جابر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: «اتَّقُوا الظُّلْمَ، فَإِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَاتَّقُوا الشُّحَّ، فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، حَمَلَهُمْ عَلَى أَنْ سَفَكُوا دِمَاءَهُمْ وَاسْتَحَلُّوا مَحَارِمَهُمْ». "له ظلم څخه ځان وساتئ، ځکه چې ظلم د قیامت په ورځ تیارې دي او له بخل څخه ځان وساتئ، ځکه چې بخل له تاسو څخه مخکې خلک هلاک کړي دي، دېته يې اړ ویستلي چې خپلو کې وینې توی کړي او د الله جل جلاله محرمات ځانته حلال وګرځوي".

[صحيح] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د ظلم په اړه خبرداری ورکړ، چې له جملې څخه يې: د خلکو سره ظلم کول، په خپل ځان ظلم کول او د الله تعالی په حق کې ظلم کول دي. او ظلم؛ حقدار ته د حق نه ورکول دي او دا چې ظلم د قیامت په ورځ د ظالمانو لپاره تیارې دي چې له امله به يې له سختیو او وحشتونو سره مخ شي. او له هغه بخل څخه يې منعه وفرمایله چې حرص ورسره مل وي، چې یو ډول يې د مالي حقونو په ادا کولو کې غفلت او په دنیا سخت حرص کول دي. دا ډول ظلم هغه ظلم دی چې زموږ څخه مخکني ملتونه يې تباه کړي دي، اړ يې ویستل چې یو بل ووژني او د الله جل جلاله محرمات ځانته حلال کړي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5787